## د کنفرانس محورونه

1. **د وچو او نیمه وچو سیمو لپاره پایدارې کرنیزې عملیې؛**
   - د نباتاتو د تولید تکنالوژي
   - د اوبو د ژغورلو/ ساتنې تخنیکونه
   - د اوبو د موثریت لوړونه
   - د وچکالۍ په وړاندې د مقاومو ورایټیګانو/ ډولونو تولید
   - د تبخیر د کمولو تخنیکونه
   - د کرنېزو حاصلاتو لوړولو په موخه د قوش تیپه کانال د اوبو مدیریت لپاره د ستراتیژیګانو جوړول

2. **د اقلیم تغییر او له ځیرکو اقلیمي شرایطو سره سم کرنیزې عملیې؛**
   - ساتندویه کرنه ( له چاپیریال سره سازګاره کرنه)
   - د باران له اوبو څخه ګټه اخیستنه
   - د اوبو لګونې مدیریت
   - د خاورې له سطحي څخه د باندې کرنه
   - د اوبو خوندیتوب په نظر کې نیول سره د کرنیزو کړنو ترسره کول
   - په کرنیزو محصولاتو باندې د اقلیم بدلون د اغیزو ارزونه
   - د اقلیم بدلون سره سازګاري او د خوړو خوندیتوب سره سازګاره کرنیزو سیستمونو ته وده ورکول.

3. **په کرنه کې د اوبو د مدیریت لپاره خلاقانه لارې چارې؛**
   - د قوش تیپه کانال: د افغانستان په شمال کې د اوبو د مدریت بدلون
   - د اوبو لګونې موثر/ اغیزمن تخنیکونه
   - د اوبو د زیرمو هر اړخیز مدیریت
   - د کرنې لپاره د باران د اوبو راټولونه
   - د اوبو بیا کارول او ریسایکل کول/ په کرنه کې د اوبو د موثریت لوړونه
   - د اوبو په مدیریت کی ټیکنالوژیکی نوښتونه/ پرځای اوبه لګونه او څارنه
   - د اوبو د پایداره مدیریت لپاره د پالیسی چوکاټونه/ د موثره حکومتولۍ رامینځ ته کول

4. **په افغانستان کې د کرنیزو حاصلاتو د ښه والي لپاره کرنیزې بایو ټیکنالوژۍ او جنیټیک انجینري**
   - د قوش تیپه کانال په سیمه کې د بایو ټیکنالوژۍ په مرسته د کرنیزو نباتاتو د تولید او مقاومت لوړول
   - د ځانګړتیاوو بدلون: په افغانستان کې د جنیټیک انجینری په وسیله د نباتاتو د مقاوت او تولید لوړل
   - د ناروغیو پر وړاندې مقاومت: د جینیټیک انجینری په مرسته د ناروغیو په وړاندې د بوټو/ نباتاتو د مقاومت لوړل
   - د وچکالۍ په وړاندې مقاومت: په افغانستان کې د اوبو د کمښت په وړاندې د کرنیزو نباتاتو د مقاومت لوړولو لپاره جنتیکي تګلارې
   - د غذائي ارزښت لوړونه: په افغانستان کې د کرنیزو محصولاتو د غذایې ارزښت لوړنې لپاره د جنیټیکی انجینری کارونه
   - د چاپیریال پایداري: د افغانستان په کرنه کې د جینیټیک انجینری په مرسته د ایکولوژیکي اغیزو ارزونه

5. **کرنیزه حکومتولي او د پالیسۍ لپاره د مناسب چاپیریال رامینځ ته کول**
   - د قوش تیپه کانال: په سیمه کې د اغیزمن کرنیز مدیریت لپاره د حکومتولۍ د جوړښتونو او پالیسیګانو پیاوړتیا
   - د پالیسي ګانو جوړونه: په افغانستان کې د کرنیزې حکومتولۍ لپاره د اغیزمنو پالیسي ګانو طرحه کول
   - د شریکانو ښکیلتیا: د کرنیزې پراختیا لپاره د هر اړخیز کډون او همکارۍ ډاډ ترلاسه کول
   - قانوني چوکاټونه: په افغانستان کې د پایداره کرنې د ملاتړ لپاره د قوانینو او مقررو جوړل
   - ظرفیت لوړونه: د اغیزمنې کرنیزې حکومتولۍ لپاره د پوهې او مهارتونو پیاوړتیا
   - د چاپیریال پایداري/ پایښت: د کرنې او اوبو مدیریت لپاره د پایداره کړنو هڅول

6. **د «یو کلي یو تولید» تیوري د غښتلي کولو لپاره د هیواد په بیلابیلو زونونو کې د نباتاتو د تنوع ظرفیت؛**
   - د "یو کلي یو محصول" نوښت لپاره د قوش تیپه کانال په سیمه کې د نباتاتو د بیلابیلو ډولونو پیژندنه
   - سیمه ایزې ورتیاوې: د افغانستان په بیلابیلو سیمو کې د نباتي ډولونو لپاره د فرصتونو د شتون پیژندل
   - د ځانګړو محلي کرنیزو محصولاتو د ارزښت لوړونې ځنځیر او بازار ته د لاسرسي ته وده ورکول
   - د نباتاتو/ بوټو د تنوع په موخه کرنیزو څیړنو ته پراختیا ورکول
   - د روزنیزو کورسونو او پوهې شریکولو په وسیله د بزګرانو پیاوړتیا
   - د پایداره او ټول شموله کرنیزې تنوع لپاره د پالیسۍ ګانو ملاتړ

7. **د طبیعي سرچینو مدیریت: د ځنګلونو بیا راژوندي کول، د څرځایونو مدیریت او د ژوند د تنوع ساتنه؛**
   - د ځنګل بیا رغونه: د ځنګل پایداره مدیریت په وسیله د ژوند تنوع/ ډولونو لوړول
   - د څرځایونو مدیریت: په افغانستان کې د څارویو څرځای څخه د ګټې اخیستنې په وخت کې د ایکولوژیکي توازن ساتنه
   - د ژوند د ډولونو/ تنوع ساتنه: د ځانګړو نباتي او حیواني ډولونو ساتنه
   - د اوبو مدیریت: د کرنې او ایکوسیستمونو لپاره د اوبو د سرچینو مؤثره کارونې ډاډ ترلاسه کول
   - ټولنیز- اقتصادی اغیزې: په محلی ټولنو کې د طبیعي سرچینو د مدیریت او ګټو ارزونه
   - د قوش تیپه کانال: پایداره کرنیزو کړنو ته په وده ورکولو کې د قوش تیپه کانال رول ارزونه

8. **د خاورې ساتنه او د خاورې ښیرازۍ هراړخیز مدیریت**
   - پایداره اوبه لګونه: د اوبو اغیزمن مدیریت او د حاصل لوړونې لپاره د اوبو لګونې تخنیکونه
   - د ابریزو مدیریت: د خاورې د ښیرازه ساتنې په موخه د ابریزو پایداره مدیریت
   - په خاوره کې د غذائي موادو/ منرالونو مدیریت: د خاورې د غذایي موادو او ښیرازۍ څخه د متوازنې ګټې اخیستنې لپاره د ستراتیژیګانو پیژندنه
   - د خاورې د تخریب مخنیوی: د خاورې د تخریب د مخنیوي په موخه د کړنو پلی کول
   - د خاورې د ښیرازۍ هراړخیز مدیریت: د قوش تیپه کانال په سیمه کې د پایداره کرنې لپاره د خاورې ښیرازه ساتلو او حاصلخیزي لوړولو لپاره د غوره میتودونو ترسره کول

9. **د کرنیزو محصولاتو د ارزښت لوړونې ځنځیر**
   - د حاصلاتو د راټولولو، سورت کولو، درجه بندي، بسته بندي، ذخیره کولو او پروسس کولو لپاره د ښو او وړ تخنیکونه پیژندنه
   - د کرنیزو محصولاتو د پایداره توزیع لپاره د بازار د اړیکو پیاوړې کول

- د کرنیزو محصولاتو د ارزښت لوړوني په ځنځیرونو کې د کیفیت تضمین او په معیارونو ټینګار
- د کرنیزو محصولاتو د ارزښت لوړوني ځنځیرونو کې د هراړخیزه نوښت او ټیکنالوژۍ څخه د ګټې اخیستنې هڅول
- بازارونو ته لاسرسی او د قوش تیپه کانال په سیمه کی د کرنیزو محصولاتو د ارزښت لوړني د ځنځیر مینځ ته راوړل

### 10. د کرنیزو توکو سوداګري او بازار موندنه

- په افغانستان کې د کرنیزو توکو په بازارونو باندې د سوداګریزو پالیسي ګانو اغیزې
- د افغانستان د کرنیزو محصولاتو د صادراتو د ودې لپاره ستراتیژي ګانې
- د افغانستان د کرنې د خوړو په سیستم کې فرصتونه او ننګونې
- په افغانستان کې د لوړ ارزښت لرونکو کرنیزو محصولاتو د ارزښت لوړونې د ځنځیر تحلیل
- په افغانستان کې د لوړ ارزښت لرونکو کرنیزو حاصلاتو د پروسس لپاره فرصتونه
- د افغانستان کرنیزو محصولاتو په سوداګریزو بیو او رقابت باندې د سوداګریزو تړونونو اغیزې
- په افغانستان کې د کرنې د بازار موندنې په وړاندې ننګونې، د قوش تیپه کانال په سیمه باندې تمرکز

### 11. د کرنې پراختیا او د بزګرانو د ژوند /معیشت ټولنیز او اقتصادي وضعیت

- د پایداره معیشت او پوهې لیږد لپاره د کرنې د پراختیا ستراتیژۍ
- په افغانستان کې د کرنې اوبولګولو او مالدارۍ وزارت سره همکارو غیر دولتي ادارو او پراختیایي پروژو لکهUNFAO ، CBARD، NHLP، Root of Peace، څخه د زده شوي درسونه نه ګټه اخیستنه
- په افغانستان کې د بزګرانو د معیشت اغیزمنونکو ټولنیز-اقتصادي فکتورونه مطالعه
- د کروندګرو د عوایدو او هوساینې په لوړولو کې د کرنیزو کوپراتیفونو رول
- د بزګرانو په معیشت او توافقي ستراتیژیګانو باندې د اقلیم د بدلون اغیزې
- بازارونو ته د بزګرانو لاسرسی او د ارزښت لوړنې فرصتونو ته وده ورکول
- د قوش تیپه کانال په سیمه کې ټول شموله کرنېزې پراختیا او د اقتصادي ودې پیاوړتیا

### 12. د حاصل راټولونې څخه وروسته د زیانونو مخنیوي په موخه د نوښتونو او ټیټ لګښت لرونکو حل لارو پېژندنه

- د حاصل راټولونې څخه وروسته د بسته بندی، ذخیره کولو او پروسس کولو د اغیزو مطالعه، د حاصل راټولونې څخه وروسته د آفتونو، او دناروغیو مدیریت، د زیاتې مودې لپاره د غذایي موادو ساتنې تخنیکونه، د ټیټ لګښت پروسس تخنیکونه، د ټیټ لګښت ذخیره کولو تخنیکونه، او د حاصل راټولونې څخه وروسته عملیات
- د حاصلاتو د راټولولو وروسته د ضایعاتو کمولو په موخه د ټکنالوژۍ څخه ګټه اخیسته
- د خوړو د خوندیتوب د ښه والي لپاره د پایداره ذخیره کولو او ساتنې تخنیکونه
- د حاصلاتو د راټولولو څخه وروسته مدیریت لپاره د ارزښت لوړونې، پروسس او د بازار اړیکې
- د حاصل راټولولو وروسته د زیانونو د کمولو لپاره د محلی حل لارو ارزونه
- د قوش تیپه کانال په سیمه کې د حاصلاتو راټولولو وروسته مدیریت لپاره د وړ تخنیکونو پیژندنه
- د قوش تیپه کانال په سیمه کې د حاصلاتو راټولولو وروسته د مدیریت لپاره د محلی وړتیاوو پیاوړتیا

**13. د ځان بسیاینې په موخه د مالدارۍ په برخه کې نوښتونه**

- د محصولاتو د زیاتوالي لپاره د څارویو د نسل او جنیتیک اصلاح
- د څارویو څخه د ښه تولید په موخه پایداره تغذیه او د تغذیې مدیریت
- د سازګارۍ د زیاتوالي په موخه د اقلیم سره د سازګارو څارویو د پالنې د کړنو پیژندنه
- د مالدارۍ د محصولاتو لپاره د ارزښت لوړونې د ځنځیر پراختیا او د بازار اړیکې
- د قوش تیپه کانال په سیمه کې د څارویو پایداره او اغیزمن مدیریت

**14. د پایدارۍ او په ځان بسیاینې لپاره د څارویو د محصولاتو مدیریت**

- د ځان بسیاینې په موخه د شیدو تولید او د لبنیاتو پروسس کول
- د چرګانو د پایداره فارمونو او د هګیو تولیدی سیستمونو ته وده ورکول
- د ځان بسیاینې په موخه د غوښې کیفیت او پروسس تخنیکونو ښه کول
- د پایدارۍ لپاره حیواني فرعي محصولاتو او د محصولاتو ارزښت لوړونې ځنځیر ته وده ورکول
- د قوش تیپه کانال په سیمه کې د څارویو د تولید دوامداره او اغیزمنو سیستمونو رامینځته کول

**15. د نباتې ناروغیو او آفتونو د دوامداره مدیریت کړنې**

- د حاصلاتو د دوامدار ساتنې لپاره د آفتونو د مدیریت هر اړخیزه لارې چارې
- د نباتي ناروغیو د مدیریت لپاره د بیولوژیکي کنټرول میتودونو ته وده ورکول
- د آفتونو په مدیریت کې د چاپیریال سره دوستانه او پایښت لرونکو کړنو ترسره کول
- د نباتي ناروغیو او آفتونو سره د مبارزې لپاره مقاومو نباتي ډولونو ته وده ورکول
- د قوش تیپه کانال په سیمه کې د نباتي ناروغیو د مدیریت د پایداره او اغیزمنو ستراتیژیګانو پلي کول

**16. د خوړو او تغذیې سره حساسه کرنه**

- د متنوع تغذیې او خوړو تولیدي سیستمونو لپاره د ژوند تنوع/ډولونو لوړول
- د خوړو د خوندیتوب لوړولو لپاره د پایداره کرنیزو کړنو هڅول
- د لوړ غذایي ارزښت لرونکو خوړو ویش او ارزښت لوړنې د ځنځیرونو پیاوړې کول
- پایداره او لوړو غذایي ارزښت لرونکو خوړو تولید لپاره د خوړه ایزې ټیکنالوژۍ او نوښتونو هڅول
- د کرنیزو کړنو او مقرراتو د ښه والي له لارې د خوړو خوندیتوب یقیني کول
- د قوش تیپه کانال په سیمه کې د سازګاره او لوړ غذایي ارزښت لرونکو خوړه ایزو سیستمونو لپاره د ژوند تنوع/ډولونو لوړول.